AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۶/۰۳/۲۰

# نوستالیژیک اختر

عید دی

او ته نه یې

له رڼا پاش ښاره

د یادونو کلي ته راغلم

د کور په هغه خونه کې مې

دېوال ته تکیه وهلې

چې تا به پکې

زما له خوړکی سره

هر اختر

نویو جامو کې

ملبوسې نانځکې

ودولې

اوس چې خوړکی او ته نه يئ

نارینه او ښځینه نانځکې

ما سره

غاړه غړی کړي

وېرېدمه چې

خدای مه کړه له تنهایي

او بیلتونه

و نه مري



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ